# د نفتي موادو د سټنډرډونو د تدوين تخنيکي کمېټه TC-6

## تاريخچه

د نفتي موادو د سټنډرډونو د تدوين کمېټه په (۱۳۸۷هـ ش) کال د سټنډرډونو د تدوين او ساختماني ملي کوډونو د رياست په چوکاټ کې ايجاد او د کمېټې په لومړۍ غونډه کې چې د (۱۳۸۸/۵/۲۲) نېټه ترسره شوه، د پټرولو، ډيزلو او خاورې تېلو د سټنډرډ مسوده د جبري سټنډرډونو په توګه تصويب شوه. همدارنګه د فرعي تخنيکي کمېټه (د لېږدوونکو وسايطو د ماشين ګازي کول) هم د همدې کمېټې تر اغېز لاندې په (۱۳۹۳/۸/۱۰) نېټه په فعاليت پيل وکړ. دې کمېټې د خپل فعاليت له پيل څخه تر دې مهاله (۱۴۱) سټنډرډونه تدوين چې وروسته د سټنډرډ عالي شورا تر تصويب وروسته د ملي سټنډرډونو په توګه منظور شول.

## ټوليز فعاليتونه

- د سټنډرډ عالي شورا له لوري د (۱۴۱) ملي سټنډرډونو تصويب
- له تخنيکي کمېټې څخه د نفتي موادو (۲۵۷) ملي سټنډرډونو تدوين او نهايي کول
- د شرکتونو/ په لېږدوونکو وسايطو کې د ګازي سېسټم د ځای پر ځای کولو ورکشاپونو د تخنيکي ارزونې لايحې تدوين او ترتيب
- د (LPG) په ګاز سره د لېږدوونکو وسايطو د ګازي کولو د دستورالعمل د مسودې تدوين او ترتيب
- د لېږدوونکو وسايطو د ماشين د ګازي سېسټم د ځای پر ځای کولو د پرزو د توريد کوونکو شرکتونو د فعاليت د ارزونې د چک لسټونو تدوين او ترتيب
- د (LPG) په ګاز سره د لېږدوونکو وسايطو د ماشين د ثبت کتابچې د لاک بوک تدوين او ترتيب
- د (LPG) په ګاز سره د لېږدوونکو وسايطو د ماشين د ګازي سېسټم د لارښود کتابچې تدوين او ترتيب
- د (LPG) په ګاز سره د لېږدوونکو وسايطو د ماشين د مصرف کوونکي د پېژندکارټ د نمونې تدوين او ترتيب

## مرستندویه بنسټونه

- د کابل پولتخنیک پوهنتون د رییس په توګه
- د افغانستان د علومو اکاډمي د غړي په توګه
- د نفتو او ګازو د تنظیم اداره د غړي په توګه
- د کانونو او پطرولیم وزارت د غړي په توګه
- د ټرانسپورټ او هوايي چلن وزارت د غړي په توګه
- د چاپېريال ساتنې ملي اداره د غړي په توګه
- د سوداګرۍ او صنایعو خونه د غړي په توګه
- د سټنډرډ ملي اداره د سکرټر په توګه

## د تخنیکي کمېټې ټولیزې دندې

- د اړتیا وړ سټنډرډونو ته لومړیتوب ورکول
- د تخنیکي کمېټې د کاري پلان جوړول
- تر پلان لاندې سټنډرډونو د مسودې د تدوین لپاره د موادو د راټولولو او اقتباس په موخه د اړتیا وړ سرچینو ټاکل
- تر پلان لاندې سټنډرډونو پر مسوده بحث او نظر
- تر پلان لاندې سټنډرډونو د مسودې نهايي کول
- پر ملي سټنډرډونو یو ځل بیا نظر اچول